دنورمحمد لاهو ۲۰۲۲/۰۱/۳۰

چې ته لاړې

چې ته لاړې
د هر بوټي له کمیسه لکه وړانګه شین رنګ والوت
ګلابونو غریبی نه ، خپل ښایست په یوه څاڅکي باران خرڅ کړ
د کړکي پر آیینې مې ستا په ګوتو د سپرلي لیکلی نوم
راته د زخم په څیر درد کا
څوم کال شو
دې ګردجنې آیینې ته باران لاس ور وړی نه دی

* * * * * *

ها دردمنه شنه شپیلی، چې
ستایادونه یی سینه کې په نوا وو
زما جسم کې دننه، سره لمبه شوه
چې ته لاړې
ستا په تګ سره دنیا هم شوه بې رحمه
یوه سیند هم تر تا وروسته
خپل یوکب خپلې سینې ته بیا پرینښود
چې ته لاړې
دیوالونو نه کړکیو سفر وکړ
زما لپو نه، مرغیو سفر وکړ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له صحرا نه لکه شرم سور رنګ والوت

ترې مَیینو سرو ریدیو سفر وکړ

راشه، راشه

په پستو، پستو پاپیو

نوره ساه درپسې خیژي د هوسیو

دادې ډیر فصلونه وشول

هر ډنډر څخه تصویر د خپل ګل هیر دی

راشه، راشه!

چې له سره حافظه د بوټو بیرته را ژوندۍ شي

راشه، راشه

چې بې تا دا ټوله ځمکه زخمي ښکاري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ